
د امیرِ اهلِ سُنّت په ربیع الآخر 1441 هجري بمطابق دسمبر 2019 په عالمي مدني مرکز
فیضانِ مدینه (کراچي) کښې د مدني مذاکرے نه مخکښې د کړې بیان تحریري ګلدسته
(مع ترمیم و اضافه)



# د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شان

پښتو

اللہ پاک ته د نزدې کېدو وظیفه

د سوشل میډیا پو پوسټ

وسوسه او د هغې جواب

د 70 زرو اجتماع

پیشکش:
مجلس المدینة العلمیه (دعوت اسلامی)
ترجمو:
ټرانسلیشن ډیپارټمنټ (دعوت اسلامی)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

# د غوثِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه شان

## اللّٰه پاک ته د نزدې کيدو وظيفه

**اللّٰه** پاک حضرت موسیٰ کليم اللّٰه عَلَيْهِ السَّلَام ته وحي اوفرمائيله: اے موسیٰ! آيا ته غواړې چې ستا کلام ستا ژبې ته، ستا خيالونه ستا زړه ته، ستا رُوح ستا بدن ته، ستا د بينائيئ نور ستا سترګو ته څومره نزدې دے، زه د دې نه هم زيات تا ته نزدې شم؟ عرض ئې اوکړو: آو! **اللّٰه** پاک اوفرمائيل: بيا په مُحَمَّد مصطفٰے (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) باندې کثرت سره درود ليږه.

(حلية الاولياء، 33/6، رقم: 7716. مطالع المسرات (اردو)، ص 69)

نوح و خليل و موسیٰ و عيسیٰ — سب کا ہے آقا نامِ محمد
پائيں مُراديں دونوں جہاں ميں — جس نے پکارا نامِ محمد
دونوں جہاں ميں دُنيا و دِيں ميں — ہے اِک وسيلہ نامِ محمد
رکھو لَحد ميں جس دَم عزيزو — مجھ کو سُنانا نامِ محمد
روزِ قيامت ميزان و پُل پر — دے گا سہارا نامِ محمد

(قبالۂ بخشش، ص 134)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# شيطان ئې اوپيژندو

د شهنشاهِ بغداد، حُضور غوثِ پاک رحمۃُ اللہ علیہ شهزاده **محترم** حضرت شيخ **اَبُو نَصُر** موسیٰ بن شيخ عبدُالقادِر جيلاني رحمۃُ اللہ علیہ فرمائي: زما والد (يعني غوث الاعظم رحمۃُ اللہ علیہ) ارشاد اوفرمائيلو: زه په خپل يو سفر کښې د صحرا په لور اُووَتلم او يو څو ورځې هلته حصار شوم خو ما ته به اوبه نه ميلاويدے، کله چې زه ډير تږے شوم نو يوې وريځې په ما سورے اوکړو او د هغې نه د باران يو څو څاڅکي اوشول، د هغې نه ما [اوبه] اوڅښلې، بيا ما يو نور اوليدو چې په هغې د آسمان يو اړخ روښانه شو او يو شکل ظاهر شو چې هغې نه ما يو آواز واوريدو: اے عبد القادِره! زه ستا رب يم او ما په تا باندې حرام څيزونه حلال کړل نو زما والدِ **محترم** حُضور غوثِ پاک رحمۃُ اللہ علیہ فرمائي چې ما **اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْم** اولوستله او اومې وئيل: "اے شيطان لعينه! لرې شه. نو روښانه اړخ په تياره کښې بدل شو او هغه شکل لوګے جوړ شو، بيا هغه ما ته اووئيل اے عبد القادره! د دې نه **مخکښې** ما اويا [70] اولياء ګمراه کړې دي خو تهٔ خپل علم بچ کړې. ما اووئيل "دا صرف زما د **رَبِّ** قدير فضل او احسان دے. د غوثِ پاک رحمۃُ اللہ علیہ شهزاده **محترم** حضرت شيخ **اَبُو نَصُر** موسیٰ بن شيخ عبدُالقادِر جيلاني رحمۃُ اللہ علیہ فرمائي: زما د والدِ **محترم** غوثِ اعظم رحمۃُ اللہ علیہ په خدمت کښې عرض اوکړے شو: تاسو ته څنګه معلومه شوه چې هغه شيطان دے؟ هغوئي رحمۃُ اللہ علیہ ارشاد اوفرمائيلو: "د هغه د دې خبرې نه چې بے شکه ما ستا د پاره حرام څيزونه حلال کړل." (بهجة الاسرار، ص228) حُضور غوثِ پاک رحمۃُ اللہ علیہ فرمائي:دا خيال کول چې شرعي مُکَلَّفات (احکامات) په څه حال کښې ساقِط (يعني معاف) کيږي، غلط دے. فرض عبادت پريښودل زِنديقيت (يعني بے ديني) ده. حرام کارونه کول مَعصيت (يعني ګناه) ده. فرض په يو حال کښې هم نه ساقِط (يعني نه معاف) کيږي. (حقائق عن التصوف، ص242)

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! تاسو اوکتل چې لـمونځ روژه فرائض هيڅ چا ته هم نه معاف

کیږي، لکه څنګه چې بعضې تش په نوم پیران کوم چې لـمونځ نه کوي کله چې د هغوئي د مریدانو نه پوښتنه اوکړے شي نو وائي چې زمونږه پیر صاحب د سحر لـمونځ په بغداد کښې کوي او بیا په اجمیر کښې د ماسپښین او په مدینه کښې هره ورځ د ماسخُتن لـمونځ کوي نو په داسې قسمه خبرو کښې نه دي راتلل پکار ځکه چې سیِّد الانبیا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته هم لـمونځ معاف نه وو بلکه په مونږه پینځه لـمونځونه فرض دي او زمونږ په آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې شپږ لـمونځونه فرض وو، آو جي! زمونږه په آقا او مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم باندې **تَهَجُّد** هم فرض وو، نور دا چې حُضور غوثِ پاک رَحمۃُ اللہِ عَلَیْہ له شیطان د دهوکے ورکولو کوشش اوکړو خو هغوئي د هغه ګزار ناکامه کړو، هغه بل ګزار اوکړو چې عبد القادره تاسو خپل علم بچ کړئ نو حُضور غوثِ پاک رَحمۃُ اللہِ عَلَیْہ په هغې هم پوهه شو چې زه زما علم نه بلکه زما **رب** تَعَالٰی بچ کړم، څکه په علم باندې غرور نه دي کول پکار، په هر حال کښې د **ربِّ** کریم په رحمت باندې نظر ساتل پکار دي.

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**اے د غوثِ اعظم عاشقانو!** دا هم معلومه شوه چې شیطان ډیر دهوکه باز دے، هغه قسما قسم د جادو چالاکیانې هُم کوي، د هغه د ګزار نه همیشه خبردار اوسیدل پکار دي، په خپل عقل او هوښیارئ د اعتماد کولو په ځائے د **اللّٰه** پاک په فضل او کرم نظر ساتل پکار دي. د چا سره چې مال وي په هغه پسې غلهٔ راځي او د چا سره چې د ایمان دولت دے په هغه پسې لوټ مار شیطان خامخا راځي د دې سره سره د چا ایمان چې څومره مضبوط وي د هغه سره به هغه همره د نیکو خزانه هم ډیره وي ځکه به شیطان هلته ډیر زور لګوي. شیطان زمونږه پیر او مرشد غوثُ الاعظم رَحمۃُ اللہِ عَلَیْہ سره د ایمان او اعمال غټه خزانه لیدلې وه نو څو څو ځله ئې د ډاکے کولو کوشش اوکړو خو اَلْحَمْدُ لِلّٰه! هغه ناکامه او نامراده شو.

بچالو دشمنوں کے وار سے یا غوثِ جیلانی بڑی اُمّید سے تم کو پُکارا یاشہِ بغداد

وسیلہ چار یاروں کا خُدا سے بخشوا دیجے کرم فرمایئے مجھ پر خُدارا یا شہِ بغداد

اگرچِہ لاکھ پاپی ہے مگر عطارؔ کس کا ہے؟ تمہارا ہے تمہارا ہے تمہارا یاشہِ بغداد

(وسائلِ بخشش، ص544)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د يو پيري توبه

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! زمونږ د مرشد غوثُ الاعظم رَحْمَۃُ اللہ عَلَیْہ په عبادت باندې استقامت د هغوئي لوئي كرامت وو. مشهور متل دے: اَلْاِسْتِقَامَةُ فَوْقَ الْكَرَامَةِ يعني استقامت د كرامت نه اوچت دے.

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! مونږ په جوش كښې راشو او څه كارونه اوكړو بيا مو جذبه سړه شي، دې له د سوړا واټر د جوش نوم وركړے شوے دے، زما د مرشد غوثُ الاعظم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د استقامت هم څومره ښكلے شان دے! شهنشاهِ بغداد سركار غوث پاک رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي: يو ځل زه په جامع منصور كښې په لمونځ كښې مشغول ووم چې مار راغلے او زما د سجدے په ځائے باندې ئې خله وازه كړه، ما هغه لرې كړو او سجده مې اوكړه خو هغه زما د غاړې نه راتاو شو او بيا زما په يو لستونړي ننوتو او په بل اُووَتو، چې كله ما سلام اوګرځولو نو ورک شو. په بله ورځ چې زه هغه جمات ته لاړم نو ما يو غټو ستركو والا انسان اوليدو، ما اندازه اولګوله چې دا كس څوک انسان نه بلكه پيرے دے، هغه ما ته اووئيل چې زه تاسو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ تنګولو والا هم هاغه پيرے يم. ما د مار په شكل كښې په ډيرو اوليائے كرامو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہِم ازميښت كړے دے خو ستاسو رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په شان مې څوک هُم ثابت قدم اونه موندلو. بيا هغه پيري د هغوئي رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ په لاس مبارک باندې توبه اوكړه. (بهجة الاسرار، ص169 ملخصاً)

ہوئے دیکھ کر تجھ کو کافر مُسلماں بنے سنگدل موم ساں غوثِ اعظم

(قبالۂ بخشش، ص183)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

چې خُشُوع و خُضوع (يعنې په لـمونځ کښې د **الله** پاک د پاره په عاجزۍ او انکسارۍ سره جسماني او ذهني توجُّه) وي نو داسې پکار ده چې که په لـمونځ کښې ترينه مار هم راتاو شي مګر د **الله** پاک نه ئې توجُّه لرې نه شي. آه! يو زمونږ لـمونځ دے چې که په مونږ باندې مچ هم کښيني نو پريشانه شو، معمولي خارښ هم نشو برداشت کولے، د دې واقعے نه دا هم معلومه شوه چې پيريان هم زمونږه د غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مريدان جوړيږي.

شيخ ابو عبد الله محمد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما د قُطبِ رَبَّاني، محبوبِ سبحاني، پيرِلاثاني، قِنديلِ نوراني، شيخ مُحْيُ الدِّين، عبدُالقادِر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خلويښت کاله خدمت اوکړو، په دې موده کښې به هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ماسخُتن په اوداسه باندې د سحر لـمونځ کولو او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه معمول وو چې کله به بے اودسه شو نو هم هغه وخت به ئې اودس کولو او دوه رکعته نفل لـمونځ به ئې کولو. (بهجة الاسرار، ص164)

# د تَحِيَّةُ الوُضُو فضيلت

اے زما د مُرشد غوث پاک عاشقانو! د اودس کولو نه پس که مکروه وخت نه وي نو دوه رکعته نفل ادا کولو ته " **تَحِيَّةُ الوُضُو** " وئيلے شي. د " **تَحِيَّةُ الوُضُو** " ډير فضيلت دے او دا د نيک جوړيدو نسخه په نوم د "**نيک اعمال**" کښې يو نيک عمل هم دے. د صحيح مسلم شريف په حديث نمبر **553** کښې د مصطفٰے کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې په ښه طريقه اودس اوکړي او دوه رکعته د زړه په توجه سره ادا کړي نو د هغه د پاره به جنت واجب شي. (مسلم، ص118، حديث: 553)

*هو کرم! حُسنِ عمل آه! نہيں ہے کوئی نہ وظائف ہيں نہ اَذکار ہيں غوثِ اعظم*

حشر کے روز ہماری بھی شَفاعت کرنا　　آہ! ہم سخت گنہگار ہیں غوثِ اعظم
(وسائلِ بخشش، ص561)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❀❀❀ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

# د غوث پاک شب بيداري

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! زما مرشد غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به ډير زيات عبادت او رياضت او د قرآنِ كريم تلاوت كولو، منقول دي چې شهنشاهِ بغداد حُضُور غوث پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به تر پينځلسو كالو پورې په ټوله شپه كښې يو ځل د قرآنِ پاک ختم كولو. (بهجة الاسرار، ص118) هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه به هره ورځ زر ركعته نفل ادا كول. (تفريح الخاطر، ص35) حُضُور غوث پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه شپه چې كله ما د خپلو معمولاتو (يعنې عبادتونو) اراده اوكړه نو نفس سستي اختيار كړه او مشوره ئې راكړه چې لږ ساعت اُوده شه او بيا به وروستو راپاځې او عبادت به اوكړې، په كوم ځائے چې مې په زړه كښې دا خيال راغلے وو په هُم هغه ځائے كښې او په هم هغه وخت په يوه ښپه اودريدم او يو ځل مې قرآن كريم ختم كړو. (بهجة القادريه)

# په لمونځ كښې سستي ولې

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! زمونږه د سستئ به څه وائې! د سحر په اذان باندې مو سترګې اوغړيږي، ګهړئ ته اوګورو، اوس خو لا جمعې ته ډير وخت دے بيا پينځلس منټه اوده شو بيا راپاځيږو نو نمر راختلے وي او لمونځ قضا شوے وي، د لمونځ د قضا كيدو افسوس هم نه محسوسوو، دا خومره غټ مصيبت دے، كه لږ شان مصروفيت مو وي، زه مره قضا به ئې اوكړو، زنانه په دې مرض كښې ډيرې اخته دي، شاپنګ سينټر ته به لاړې شي، لمونځ به قضا كړي او بيا به قضا لمونځ اوكړي، دا هم هغه كومې چې لمونځ كوي، كومې چې لمونځ نه كوي د

هغوئي خبره خو بيله ده. چې د چا د واده دعوت له لاړ شي نو د اسلامي ورونړو نه هم لـمونځ قضا شي، څوک چې جذبه لري نو کيدے شي چې هغوئي په منډه لاړ شي او په جمات کښې لـمونځ اوکړي، زنانه خو د دې هم پروا نه کوي، داسې مه کوئ! که تاسو په دنيا کښې هر چرته ځئ، که په شاپنګ سينټر يا په بازار کښې ځئ خو د شرعي پردے مطابق د لـمونځ پابندي کوئ، بلکه په داسې وخت کښې ځئ چې په هغې کښې د لـمونځ وخت نه وي، خپل کار ختم کړئ او فوراً کور ته راشئ او کور کښې ښه په آرام سره لـمونځ اوکړئ او که زنانؤ سره څوک مَحرَم وي نو د لـمونځونو د وختونو نه علاوه عموماً جمات خالي وي، هلته دې پرې په پرده کښې اودس وغيره اوکړي او لـمونځ دې پرې اوکړي. کله چې زما سره د سيکورټي معاملے نه وې، نو په يو جمات کښې، ما پخپله په خپله لُور او د بچو په مور په سفر وغيره کښې لـمونځ کړے دے، کور ته نشو رسيدے، ځه لـمونځ به اوکړو. که جذبه لرئ نو داسې کولے شئ.

افسوس مونږه د لـمونځ په معامله کښې سنجيده نه يو. ياد ساتئ! بهانه هغه کوئ کومه چې په قيامت کښې تاسو بچ کړے شي، ګنې يو بل خو مونږ مطمئين کړو، **رب** د هر څه نه خبر دے. څوک چې لـمونځ نه کوي هغوئي له هم لـمونځ ګزاره جوړيدل پکار دي، ګنې د مرګ نه پس به ډير پښيمانه وي.

کرلے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی　　قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## وسوسه او د هغې جواب

کيدے شي چې د چا په ذهن کښې دا خيال راشي چې بزرګانِ دين رَحمَةُ اللهِ عَلَيهِم به دومره عبادت څنګه کولو! روزګار او بيا په زرګونو رکعته کول، ورومبئ خبره خو دا چې دومره رکعتونه عام انسان نشي کولے، دا د هغوئي کرامت دے، لکه څنګه چې د مسلمانانو څلورم

خليفه حضرت عليُ الــمرتضیٰ، شيرِ خدا رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ چې به کله آس ته ورختلو نو چې په يو رِکاب کښې به ئې مبارکه ښپه کيښودله بيا به ئې بله ښپه رِکاب له ورله نو په دې يو څو سيکنډو کښې به ئې د ټول قرآنِ کريم تلاوت کولو، دا د هغوئي کرامت وو. (شواہد النبوۃ، ص212)

## د سوشل ميډيا يو پوسټ

د نيکانو بندګانو زړونه د **الله** پاک په محبت او په تقوىٰ آباد وي، هغوئي د خپلو زړونو نه د دنيا محبت وِيستلے وي، د هغوئي روحونه د **الله** پاک د ذِکر نه بغير بے سکونه او بے قراره اوسي، ځکه هغوئي هر وخت د **الله** پاک په ياد کښې مصروف اوسي او دا مقام په عبادت او رياضت کښې په سخت محنت باندې حاصليږي. د سوشل ميډيا يو پوسټ (د څه بدلون سره بيانووم) په کوم کښې چې چا [په غافلانو] څه داسې ګزار کړے وو: يو کس د بَل نه پوښتنه اوکړه چې بزرګانِ دين به څنګه ټوله شپه په لــمونځ او قرآن لوستلو تيروله، نو بل جواب ورکړو: لکه نن سبا چې خلق څنګه ټوله ټوله شپه په سوشل ميډيا باندې په Chatting يعني په خبرو کولو، ويډيو ګانو کتلو وغيره باندې تيروي او ډير ځل د سترګي کيدو او تکليف اظهار هم نه کوي، نو د بزرګان دين سکون او قرار به د **الله** پاک په ياد کښې وو په دې وجه به هغوئي د خپل پاک پروردګار په ياد کښې داسې مشغوله اوسيدل چې د ټولې شپې تيريدو پته به ورته نه لګيده او مونږ د دنيا په خوندونو کښې داسې مست يو چې مونږ د دنيائي خواهشاتو نه نۀ وزګاريږو.

ټوله شپه په ګناهونو، ګپونو، د موسيقۍ په پروګرامونو، د ګډا په محفلونو کښې داسې تيره شي لکه شپه چې وړه شوې وي، خو چې څنګه د لــمونځ وخت راشي نو سستي پرې راخوره شي، [يا به وائي] اوبه ډيرې يخې دي! لــمونځ به څنګه کوو! [يا به وائي] اوس ستړے يم، سبا سحر به دواړه [يعني د نن او د سبا دواړه] لــمونځونه يو ځائے اوکړو، دا زمونږ د قوم حالت دے.

**الله** کريم دې د غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيله مونږ ټولو له پابندۍ سره د صحيح لــمونځ کولو

سعادت راکړي. **الله** دې اوکړي چې مونږ ټول پاخه لـمونځ ګزاره شو، داسې آمين اووائيئ چې شيطان پرې خفه شي، اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيۡم! مونږ به پاخه د جمعې سره لـمونځ کوونکي جوړيږو.

غوث پاک رحمۃُاللہِ علیہ چې شيطان په عبادت کښې په سستئ کښې اچول غوښتل نو هغوئي ټوله شپه په يوه ښپه اودريدلو او قرآنِ کريم ئې ختم کړو مونږ هم د غوثِ پاک رحمۃُاللہِ علیہ مريدان يو. که هر څه اوشي، که باران وي، که طوفان وي، که زلزلے وي، که ګلئ وريږي، خو مونږ به لـمونځ نه قضا کوو. اِنۡ شَآءَاللّٰهُ الۡكَرِيۡم!

ہر عبادت سے بَرتَر عبادت نماز | ساری دولت سے بڑھ کر ہے دولت نماز
قلبِ غمگیں کا سامانِ فرحت نماز | ہے مریضوں کو پیغامِ صحت نماز
نارِ دوزخ سے بے شک بچائے گی یہ | رب سے دلوائے گی تم کو جنّت نماز
بھائیو! گر خُدا کی رِضا چاہیے | آپ پڑھتے رہیں باجماعت نماز
ہوگی دنیا خراب آخِرت بھی خراب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز
بے نمازی جہنّم کا حقدار ہے | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز
سَہہ سکو گے نہ دوزخ کا ہرگز عذاب | بھائیو! تم کبھی چھوڑنا مت نماز
یاخُدا تجھ سے عطاؔر کی ہے دعا | مُصطفٰے کی پڑھے پیاری اُمّت نماز

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## ډير زيات عبادت

د شهنشاه بغداد حضور غوثِ پاک رحمۃُاللہِ علیہ تر پينځلسو کالو پورې دا حال وو چې د ماسخُتن د لـمونځ نه پس به په يوه ښپه اودريدلو او په قرآن شريف لوستلو به ئې شپه سبا کړه. (اخبار الاخيار، ص 11) اکثر به ئې د شپې په دريمه حصه کښې دوه رکعته نفل ادا کول په هر رکعت کښې به ئې د سُوۡرَةُ الرَّحۡمٰن يا د سُوۡرَةُ الۡمُزَّمِّل تلاوت کولو، که ''سُوۡرَةُ الۡاِخۡلَاص'' به ئې لوستلو نو د

هغې شميره به د سل كرته نه كمه نه وه (تفريح الخاطر، ص35)

## ډيرې نفل روژے

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! زما مرشد حُضُور غوث پاک رحمۃُاللہِعلَیہ به ډيرې زياتې روژے نيولې. نو د حُضُور غوث پاک رحمۃُاللہِعلَیہ ټول منونكې دا پخه اراده اوكړئ چې د رَمَضَانُ المُبَارَک يوه روژه به هُم بغير د څه شرعي عُذر نه نهٔ قضا كوو اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡكَرِيم! او مَعَاذَالله! څومره چې قضا شوې دي د هغې نه رښتينې توبه اوكړئ او د هغې قضا هم را اوګرځوئ، زما مرشد حُضُور غوث پاک رحمۃُاللہِعلَیہ به بعضې وخت د ونو په پاڼو او ځنګلي بوټو وغيره باندې روژه ماتوله. غرض قَائِمُ اللَّيْل او صَائِمُ النَّهَار (يعني د شپې عبادتونه كول او د ورځې روژه نيول) د هغوئې عادت جوړ شوے وو.

شيخ ابو عبدُ الله محمد بن اَبي الفتح هَرَوِي رحمۃُاللہِعلَیہ فرمائي: ما د حُضُور غوث پاک رحمۃُ اللہِعلَیہ په خدمت كښې يو څو شپې تيرې كړې، د هغوئې رحمۃُاللہِعلَیہ دا حال وو چې د شپې په وړومبئ دريمه حصه كښې به ئې څه وخت لـمونځ كولو بيا به ئې ذِكر كولو تر دې چې د شپې يوه حصه به تيره شوه او دا ذِكر به ئې كولو "اَلْمُحِيْطُ الرَّبُّ الشَّهِيْدُ الْحَسِيْبُ الْفَعَّالُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ" ما اوليدل چې كله به د هغوئې بدن كمزورے شو او كله څورب، كله به په هوا شو او زما د سترګو نه به پناه شو بيا به (لږ وخت پس راغلو او) په لـمونځ به اودريدو او قرآنِ كريم به ئې لوستلو تر دې چې د شپې په دريو كښې دويمه حصه به تيره شوه. هغوئې رحمۃُاللہِعلَیہ به سجدے هم ډيرې اوږدې كولې، خپل مخ به ئې په زمكه لګولو. بيا به تر د سحر راختو پورې په مُراقَبَه او مُشَاهَده كښې ناست وو بيا به ئې ډيره په عاجزئ سره دعا كوله، په هغه وخت كښې به هغوئې داسې نُور پټ كړلو چې د سترګو نه به پناه شولو تر دې چې د سحر د لـمونځ د پاره به د كور مبارک نه را اُووتلو. (بهجة الاسرار، ص164)

# د غوثِ پاک د اللّٰه پاک نه ویره

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! د **اللّٰه** والؤ د همیشه نه دا طریقه وه چې د ډیرو نیکو کولو او د ګناهونو نه د بچ کیدو باوجود به هغوئي د **اللّٰه** پاک نه ډیر زیات ویریدل. زمونږه مرشد حُضُور غوث پاک رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ به هم د **اللّٰه** پاک نه ډیر زیات ویریدلو، حضرت شَرفُ الدِّین سَعدِي شیرازي رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ فرمائي: حضرت شیخ عبد القادر جیلاني رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ په حرمِ کعبه کښې اولیدلے شو چې په کاڼو باندې ئي سر کیښودے دے او په بارګاهِ ربُّ العِزّت کښې عرض کوي: ”اے ربِّ کریمه! ما اوبخښې او که زه د سزا حقدار یم نو د قیامت په ورځ باندې ما ړوند راپاڅوې د پاره د دې چې د نیکانو خلقو په مخکښې شرمنده نه شم.“ (گلستانِ سعدی، ص54)

# د غوثِ پاک اختر

حُضُور غوث پاک رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ د اولیائے کرامو سردار دے خو د هغوئي د **اللّٰه** پاک نه د ویریدو چې کوم حال وو د هغوئي په لوړ منسوب د دې شعرونو نه د هغې اندازه لګیدے شي چې هغوئي رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ د اختر په ورځ اوفرمائیل: (د هغه شعرونو ترجمه): یعنې ”خلق وائي : ”سبا اختر دے! سبا اختر دے!“ او خوشحاله دي. خو زه چې په کومه ورځ د دې دنیا نه خپل ایمان سلامت یوسم، زما د پاره به هغه ورځ اختر وي.“ (فیضانِ رمضان، ص309)

ہے عطّاؔر کو سلب ایماں کا دھڑکا — بچا اس کا ایماں بچا غوثِ اعظم
ہو عطّاؔر کی بے سبب بخشش آقا — یہ فرمائیں حق سے دُعا غوثِ اعظم
(وسائلِ بخشش، ص551، 554)

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! مونږ د حُضُور غوث پاک رَحمَۃُاللہِ عَلَیہ خنګه عاشقان یو چې زمونږه پیر او مرشد خو به د پیرانِ پیر، د ولیانو امیر کیدو باوجود هم دومره عبادتونه کول او مونږ فرض لـمونځ هم نشو کولے او که کوو ئي هم نو د شرعي اجازت نه بغیر ئي د جَمعې سره

نه کوو. ياد ساتئ! اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: څوک چې (يو) لـمونځ قضا کړي نو هغه په زرګونو کاله د دوزخ د عذاب حقدار دے. (فتاوٰی رضویه،158/9) او دا هم ياد ساتئ چې قصداً د شرعي اجازت نه بغير جُمعه پريښودل هم سخته ګناه ده. محبت کولو والا د خپل محبوب په نقشِ قدم باندې ځي. څکه مونږ له هم پکار دي چې د حُضُور غوث پاک رحمۃ اللہ علیہ سره د محبت کولو سره سره د لـمونځونو پابندي کوو، فرض روژے نيسو، هميشه په هر حال کښې رښتيا وايو او د خپل پروردګار نه ويريږو. کاش کاش کاش!!!

گناہوں نے مجھ کو کہیں کا نہ چھوڑا  نہ ہو جاؤں برباد یاغوثِ اعظم
مجھے نفسِ ظالِم پہ کر دیجے غالِب  ہو ناکام ہَمزاد یاغوثِ اعظم
مرے قلب سے حُبِّ دنیا کی مرشِد  اُکھڑ جائے بُنیاد یاغوثِ اعظم

(وسائلِ بخشش، ص555، 556)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د مصطفٰے کريم صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ديدن

حضرت شيخ عبدُ القادِر جيلاني رحمۃ اللہ علیہ يو ځل په منبر باندې اودريدو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: " په ما باندې يو ځل د نهې په ورځ د ماسپښين د لـمونځ نه مخکښې رسولِ پاک صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کرم اوفرمائيلو او خپل ديدار ئې راعطا کړو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: "ځويه! بيان ولې نه کوې؟" ما عرض اوکړو: "اے زما نيکه بابا جانه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زه عَجَمي (غير عربي) يم، د بغداد د فُصَحاؤ (يعني د بغداد د لويو لويو فصيح يعني د صفا ژبې ويونکو) په وړاندې به څنګه بيان کووم؟" نو خوږ آقا صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: "ځويه! **خُله برسيره کړه**" ما چې خله برسيره کړه نو هغوئ صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم زما په خله کښې ووه کرته خپلې لاړې مبارکې واچولې او ارشاد ئې اوفرمائيلو: "خلقو ته بيان کوه او د ښو ښو حکمتونو او نصيحتونو په

ذريعه ئې د **الله** پاک په لور رابله.'' بيا ما د ماسپښين لـمونځ ادا کړو او کښيناستم، زما خوا ته ډير خلق راجمع شول، په ما باندې يوه عجيبه شان ويره وه چې ناڅاپه ما په وِجداني کيفيت کښې اوليدل چې **اميرُالْمؤمنين** حضرت **عليُّ الْمُرتَضٰی** شيرِ خدا رَضِیَ اللهُ عَنْه زما مخې ته تشريف فرما دے او فرمائي چې ''اے ځويه بيان ولې نه کوې؟'' ما عرض اوکړو: ''اے زما والدِ **محترمه**! په ما باندې ويره شان راغلې ده.'' نو هغوئي ارشاد اوفرمائيلو: ''اے زما ځويه! خُله برسيره کړه.'' ما چې خُله برسيره کړه نو هغوئي رَضِیَ اللهُ عَنْه زما په خُله کښې شپږ کرته لاړې مبارکې واچولې، ما عرض اوکړو: '' تاسو ووه کرته ولې داسې اُونکړل؟'' نو اوئې فرمائيل: ''د رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ادب په وجه.'' (يعنې هغوئي ووه کرته واچولې نو ځکه ما يو ځل کمې شپږ کرته واچولې) بيا هغوئي زما د سترګو نه پناه شولو او ما بيان شروع کړو. (بهجة الاسرار، ص58)

عُلوم و فیوض شہنشاہِ طیبہ ہیں سینے میں تیرے نِہاں غوثِ اعظم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د غوثِ پاک د نيکئ دعوت

شهنشاهِ بغداد، حُضُور غوث پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د نيکئ د دعوت عام کولو شروع د **شَوَّالُ الْمُکَرَّم** په مياشت کال 521 ھ کښې د بغدادِ مُعلّٰی په مشرق کښې موجودې حَلبه نومې **محله** کښې په کيدونکي يوه عظيمُ الشانه اجتماع کښې د بيان کولو نه اوکړه. په هغه عظيمُ الشانه اجتماع کښې هيبت راخور وو او ډير خلق وو، اوليائے کرامو او فرښتو هغه [اجتماع] پټه کړې وه، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د کتاب او سنت د وضاحت سره خلق د **الله** پاک په لور رابللو نو خلقو د اطاعت او فرمانبردارئ د پاره تادي شروع کړه. (بهجة الاسرار، ص174) د غوثِ اعظم شهزاده حضرت عبد الوهاب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې ''**والد محترم حضور شيخ عبد القادر جيلاني غوثِ اعظم** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه **د 521 ھ نه تر 561 ھ پورې څلويښت کاله مخلوق ته وعظ او نصيحت**

**اوفرمائيلو.“** (بهجة الاسرار، ص184)

## آواز مبارک به ئې تهولو يو شان اوريدو

د شهنشاهِ بغداد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په مجلس مبارک کښې به د دې باوجود چې برخه اخستونکې به ډير زيات وو خو د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه آواز مبارک به چې څنګه نزدې خلقو ته رسيدو هغه شان به لرې خلقو ته هم رسيدو يعنې د لرې او نزدې والؤ د پاره د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه آواز مبارک يو شان وو. (بهجة الاسرار، ص181)

حضرت ابراهيم سعيد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کله چې به زمونږه شيخ غوثُ الاعظم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د عالـمانو لباس واغوستلو او په اوچت ځائے باندې اودريدلو او بيان به ئې فرمائيلو نو خلقو به د هغوئي خبرې مبارکې په غور سره اوريدلې او په هغې باندې به ئې عمل کولو.
(بهجة الاسرار، ص189 ملخصاً)

اے د غوثِ اعظم عاشقانو! قربان شم زما د مرشد غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مبارک آواز نه! د هغوئي دا ښکاره کرامت وو چې څنګه به وړومبي کس آواز اوريدو زرم، لس زرم کس به هم هغه شان آواز اوريدو او سُبْحٰنَ اللّٰه! د هغوئي به د اويا اويا زرو کسانو اجتماع وه، زمونږه د آواز د لاؤډ سپيکر په ذريعه هم تر لرې رسيدو پورې مسئله وي، کله مو آواز يک دم تيز شي کله کم شي.

## د 70 زرو اجتماع

زما مرشد، شهنشاهِ بغداد حُضُور غوث پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې په شروع شروع کښې به په اُودو او په ويښه ما سره هر وخت د اَمْرٌبِالْمَعْرُوْفِ وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَرِ (يعنې د نيکئ دعوت ورکولو او د ګناه نه د منع کولو) فِکر وو او زه به د قرآن او سنت د تبليغ د پاره دومره بے قراره اوسيدم چې په ځان به مې هم اختيار نه وو او چې زما سره به دوه درې کسان هم وو نو ما به هغوئي ته د قرآن او سنت خبرې شروع کړې بيا به زما خوا له دومره ډير خلق راتلل چې په مجلس کښې

به ځائے نه وو. زه عيد ګاه ته لاړم او هلته مې وعظ او نصيحت شروع کړو، هلته هم ځائے تنګ شو نو خلقو زما منبر د ښار نه بهر يوړلو او بے شميره خلق به سواره او پيدل راتلل او د اجتماع نه بهر به ګير چاپيره اودريدل او وعظ به ئې اوريدلو تر دې چې د اوريدونکو شميره اويا زرو (70000) ته نزدې شوه. (بهجة الاسرار، ص177 ملخصاً)

وَعظوں کی تیرے مُرشِد ہے دُھوم چار جانب | میں بھی کبھی تو سُن لوں، میٹھا کلام کہنا
جلوہ دِکھانا مُرشِد، کلمہ پڑھانا مُرشِد | جس دَم ہو زندگی کا، لبریز جام کہنا
اُفتاد آ پڑی ہے، اِمداد کی گھڑی ہے | فریاد کر رہا ہے، تیرا غلام کہنا
سائل نوازِشوں کا، کہتا تھا سازِشوں کا | مُرشِد ہو دشمنوں کا، قصّہ تمام کہنا
عَطّار کو بُلا کر، مُرشِد گلے لگا کر | پھر خوب مُسکرا کر، کرنا کلام کہنا
بغداد کے مسافر، میرا سلام کہنا | بغداد کے مسافر، میرا سلام کہنا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

# د غوثِ پاک بيان ته د اوليائے کرامو حاضري

منقول دي چې غوثُ الاعظم رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَيْه به کله د وعظ د پاره په منبر باندې تشريف فرما شو نو چې څنګه به هغوئي اَلْحَمْدُ لِلّٰه! وئيله په مخ د زمکه باندې چې څومره اوليائے کرام وو که هغوئي به په اجتماع کښې موجود وو او که نه تول به خاموشه شول، هم دغه وجه ده چې هغوئي به د يو ځل اَلْحَمْدُ لِلّٰه! وئيلو نه پس لږ ساعت خاموشه شولو او بيا به ئې بيان شروع کړو، په دومره وخت کښې به په اجتماع کښې دومره ګڼه شوله چې څومره خلق به ښکاريدل د هغې نه په څو چنده زيات اوريدونکي او حاضرين به داسې وو چې هغوئي به په ظاهري سترګو نه ليدے کيدل. (اخبار الاخيار، ص12) هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَيْه به په اجتماع کښې د شريکو خلقو د زړونو مطابق بيان فرمائيلو او په کشف به د هغوئي په لور متوجه کيدلو، کله چې به هغوئي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَيْه

په منبر اودريدلو نو د هغوئي د جلال په وجه به خلق هم اودريدل او چې کله به هغوئي رحمۃ اللہ علیه د خاموشه کيدلو اُوفرمائيل نو ټول به داسې خاموشه شول چې د هغوئي رحمۃ اللہ علیه د هيبت په وجه به د هغوئي د ساه ګانو د آواز نه علاوه هيڅ هم نه اوريدلے کيدل. (بهجة الاسرار، ص181)

واہ کیا مرتبہ اے غوث ہے بالا تیرا — اُونچے اُونچوں کے سَروں سے قدَم اعلیٰ تیرا
سر بھلا کیا کوئی جانے کہ ہے کیسا تیرا — اولیا مَلتے ہیں آنکھیں وہ ہے تلوا تیرا
کیا دَبے جس پہ حِمایت کا ہو پنجہ تیرا — شیر کو خطرے میں لاتا نہیں کُتّا تیرا
غَرض آقا سے کروں عَرض کہ تیری ہے پناہ — بندہ مجبور ہے خاطر پہ ہے قبضہ تیرا
حُکم نافِذ ہے ترا خامَہ ترا سیف تری — دم میں جو چاہے کرے دَور ہے شاہا تیرا
فخر آقا میں رضاؔ اور بھی اِک نظمِ رَفیع — چل لکھا لائیں ثنا خوانوں میں چہرا تیرا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت خضر عَلَيۡهِ السَّلَام راتګ

حضرت شيخ عبدُ الحق محدثِ دِهلوي رحمۃ اللہ علیه فرمائي: د شهنشاهِ بغداد، حُضُور غوث پاک رحمۃ اللہ علیه په مجلس شريف کښې به ټول اوليائے کرام رحمۃ اللہ علیهم د جسماني حيات او اَرواحو سره (يعني د خپلو روحونو سره) او پيريان او فرښتے [به هُم] تشريف فرما وې او (ډير ځل خو به) رسولِ پاک صلی اللہ علیه واٰلہٖ وسلم هم د تربيت او حمايت کولو د پاره تشريف فرما کيدلو، حضرت خضر عليه السلام به اکثر مجلس شريف ته تشريف راوړلو او صرف پخپله به ئې تشريف نه راوړلو بلکه د هغه دور چې به د کوم بزرګ سره هم د هغوئي عليه السلام ملاقات کيدلو نو هغوئي ته به ئې هم د مرشد غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه په مجلس کښې د حاضريدو تاکيد فرمائيلو [يعني] چې **" د چا چې هم د کاميابئ خواهش وي نو هغوئي ته د غوثِ پاک** رحمۃ اللہ علیه **په مجلس شريف کښې هميشه حاضري ضروري ده."** (اخبار الاخيار، ص13)

جسے شک ہو وہ خضر سے پوچھ دیکھے          تیری مجلسوں کا سماں غوثِ اعظم

# د خوب نظاره په وينبه

زما مرشد، شهنشاهِ بغداد غوثِ پاک رحمۃ اللہ علیه يوه ورځ بيان فرمائيلو او د هغوئي خاص مريد او وړومبے خليفه شيخ علي بن هَيتي رحمۃ اللہ علیه د هغوئي په خوا کښې ناست وو چې هغوئي له خوب ورغلے، زما مرشد، شهنشاهِ بغداد حُضُور غوث پاک رحمۃ اللہ علیه **مجلس** والؤ ته اوفرمائيل خاموشه شئ او هغوئي د منبر نه راکوز شولو او د شيخ علي بن هَيتي رحمۃ اللہ علیه **مخې** ته په ادب سره اودريدلو او هغوئي ته ئې کتل. کله چې شيخ علي بن هَيتي رحمۃ اللہ علیه د خوب نه رابيدار شو نو حُضُور غوث پاک رحمۃ اللہ علیه هغوئي ته ارشاد اوفرمائيلو چې تاسو په خوب کښې د **الله** پاک خوږ نبي صلی اللہ علیه واٰله وسلم اوليدلو؟ هغوئي جواب ورکړو: آو جي. هغوئي رحمۃ اللہ علیه اوفرمائيل: زه په هُم دې وجه په ادب اودريدلے ووم، بيا هغوئي پوښتنه اوکړه چې نبئ پاک صلی اللہ علیه واٰله وسلم تاسو ته څه نصيحت اوفرمائيلو؟ نو هغوئي عرض اوکړو: هغوئي صلی اللہ علیه واٰله وسلم اوفرمائيل چې ''**د شيخ عبد القادر جيلاني** رحمۃ اللہ علیه **په خدمت کښې حاضري لازمي کړه.**'' بيا وروستو خلقو د شيخ علي بن هيتي رحمۃ اللہ علیه نه پوښتنه اوکړه چې د حُضُور غوثُ الاعظم رحمۃ اللہ علیه د دې فرمان څه مطلب وو چې ''**زه په هُم دې وجه په ادب اودريدلے ووم**'' نو ولي کامل شيخ علي بن هيتي رحمۃ اللہ علیه اوفرمائيل: ''**ما چې څه په خوب کښې ليدل غوثِ پاک** رحمۃ اللہ علیه **هغه په وينبه ليدل.**'' (بهجة الاسرار، ص58)

وَرَفَعْنَا لَكَ ذِكْرَكَ کا ہے سایہ تجھ پر          بول بالا ہے ترا ذِکر ہے اُونچا تیرا

# د غوثِ اعظم په بيان کښې د پيريانو شرکت

د حضرت شيخ اَبُو زَکَريا يَحِيٰ بن اَبِي نَصر صحراوي رحمۃ اللہ علیه والد صاحب رحمۃ اللہ علیه

فرمائي ما يو ځل د عمل په ذريعه پيريان را اُوبلل نو هغوئي لږ ناوخته کړل بيا هغوئي زما خوا له راغلل او اوئې وئيل ''**چې کله شيخ عبدُ القادر جيلاني** رَحْمَةُاللهِعَلَيه **بيان فرمائي نو هغه وخت زمونږ د رابللو کوشش مه کوه.**'' ما اووئيل ولې؟ پيريانو اووئيل چې مونږ د حُضُور غوثُ الاعظم رَحْمَةُاللهِ عَلَيه مجلس ته حاضريږو. ما اووئيل تاسو هم د هغوئي مجلس ته ځئ؟ هغوئي اووئيل؟ آؤ! مونږ په نارينؤ کښې په ګڼ شمير کښې شامليږو، زمونږه ډيرې ډلې دي کومو چې اسلام قبول کړے دے او هغوئي ټولو د حُضُور غوث پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيه په لاس توبه کړې ده. (بهجة الاسرار، ص180)

# په ديارلسو علومو کښې بيان

حضرت علامه شيخ عبدُ الوهاب شَعراني رَحْمَةُاللهِعَلَيه ليکي: **حضرت شيخ عبدُ القادر جيلاني** رَحْمَةُاللهِعَلَيه **به په ديارلسو علومو کښې تقرير فرمائيلو.**'' او د حُضُور غوث پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيه په مدرسه کښې به خلقو د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيه نه تفسير، حديث، فِقه او علمُ الکلام لوستلو، د ماسپښين نه مخکښې او وروستو په دوارو وختونو کښې به ئې خلقو ته تفسير، حديث، فقه، کلام، اُصول او نحو ښودل او د ماسپښين نه پس به ئې د قرأتونو سره د قرآنِ کريم تعليم ورکولو.
(الطبقات الکبریٰ للشعرانی،179/1.بهجة الاسرار، ص225)

زما مرشد، شهنشاهِ بغداد حُضُور غوث پاک رَحْمَةُاللهِعَلَيه به په يوه هفته کښې درې کرته بيان فرمائيلو، په مدرسه کښې د جُمعے په سحر، د نهې په ماښام او په سرائے کښې د اتوار په سحر.
(قلائد الجواهر، ص18)

د هغوئي په مجلس کښې به 400 زبردستو عالمانو د هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيه تقرير ليکلو او بعضې وخت به د مجلس په حالت کښې هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيه يو څو قدمه په هوا کښې والوتلو او بيا به په کرسئ باندې تشريف فرما شولو. هغوئي رَحْمَةُاللهِعَلَيه به فرمائيل: زما زړه غواړي: لکه څنګه چې زه مخکښې ووم اوس هم هغسې په ځنګلو کښې اوسيږم چې نه زه خلق وينم او نه هغوئي ما ويني بيا ئې اوفرمائيل چې **الله** پاک دا اوغوښتل چې زما نه خلقو ته فائده اورسي

ځکه چې زما په لاس د يهوديانو او نصرانيانو نه د پينځه سوو نه زيات مسلمانان شول او زما په لاس باندې د يو لاکھ نه زياتو بے عملو توبه اوکړه او دا لويه نيکي ده.(بهجة الاسرار، ص184 ملتقطاً)

بیاں سُن کے توبہ گنہگار کر لیں زباں میں وہ دیدو اَثر غوثِ اعظم

## د غير مسلمو اسلام قبلول

يو ځل د هغوئي په خدمت کښې ديارلس غير مسلمه راغلل او د هغوئي د وعظ په مجلس کښې مسلمانان شول بيا ئې اووئيل چې مونږ د مغرب د علاقے نصرانيان (غير مسلمه) يو. مونږ د اسلام اراده اوکړه خو زمونږه شک وو چې چرته لاړ شو او اسلام راوړو څه فيصله مو نشوه کولے. بيا مونږ يو غيبي آواز واوريدو چې اے کاميابي دلې! **تاسو بغداد ته لاړ شئ او د شيخ عبد القادر په لاس باندې مسلمانان شئ ځکه چې د هغوئي په برکت سره به ستاسو زړونو ته هٰغه ايمان درکړے شي کوم چې به په بل ځائے کښې نشي حاصليدے.**" (بهجة الاسرار، ص185)

قلبِ مُردہ کو بھی ٹھوکر سے جِلا دو مرشِد بِالْیَقِیں تم نے تو مُردوں کو جِلایا یاغوث

## امامُ النَّحوئي جوړ کړو


امام اَبُو محمد بن خَشَّاب نَحوي وائي: ما به د ځلمي توب په حالت کښې علمِ نحو (د عربئ ګرائمر) ښودلو. ما به د خلقو نه د حُضُور غوث پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د زړه راښکونکو بيانونو صفتونه اوريدل. ما به اراده کوله چې د هغوئي بيان واورم خو زما سره به وخت نه وو يوه ورځ ما پخه اراده اوکړه او د حُضُور غوث پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په اجتماع کښې حاضر شوم چې کله هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه بيان شروع کړو خو زما زړه ته د هغوئي کلام خوند رانکړو او نه زه په کلام پوهه شوم. ما په خپل زړه کښې اووئيل چې زما نن ورځ ضائع شوه. هُم هغه وخت حُضُور غوث پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه زما په لور متوجه شو او ارشاد ئې اوفرمائيلو: ستا د پاره دې هلاکت وي تهٔ د ذِکر په مجلس باندې نَحو (عربئ ګرائمر) له فضيلت ورکوې او دا اختياروې؟ زمونږه

صحبت اختيار کړه مونږ به تا د (عربئ د ګرائمر مشهور امام) سِيبَوَيه جوړ کړو، دا ئي چې واوريدل نو عبدُ الله خشّاب نَحوي د غوثِ پاک رحمۃُاللہ علیہ په خدمت کښې اوسيدل شروع کړل د هغې نتيجه دا ظاهره شوه چې هغوئي رحمۃُاللہ علیہ د نحو سره سره په ډيرو علومو کښې ماهر شولو . (قلائد الجواہر، ص32 . تاریخ الاسلام للذہبی، 267/39)

سلطانِ ولایت غوثِ پاک ولیوں پہ حکومت غوثِ پاک
شہبازِ خطابت غوثِ پاک فانوسِ ہدایت غوثِ پاک
اللہ کی رحمت غوثِ پاک ہیں باعثِ برکت غوثِ پاک

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِيْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

د راتلونکي هفتې رساله




عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پرانې سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net